مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

انجنیر زلمی نصرت
۲۰۲۴/۰۳/۲۷

# د ژوند سلسله

موسم دی تاند بوی د بهار دی
دښت او صحرا کړی سینګار دی
نه د چا لاس نه د چا کار دی
په دي راز پوی پروردګار دی
*
جنت شي پورته ځمکي سر ته
د مشکو بوی سره ګلزار دی
د تورو وریځو له دانو نه
ځمکه شینکی او چمن زار دی
*
بهار د ژوند په فلسفه کي
د ابدیت یو اموزګار دی
په سلسله د مرګ او ژوند کي
بهار بدلون ته تابیدار دی
*
د کائیناتو په هوا کي
د بنیادم قسمت ابدار دی
یو فنا شوی بل پیدا شوی
دغه سیکل کي ژوندون خار دی
*



ژوند د بهار سره عجین کړه
چي بي بهاره ژوند بي بار دی
هم یي ښکلا سره رنګین کړه
چي بي ښکلا ژوند خوار او زار دی
*
نصرته عشق سره ژوند وکړه
کوم عبادت کي چي قرار دی
اختیار ورکړی رب هرچاته
دي کي یي نغښتی اقتدار دی

۲۱.۰۳.۲۰۱۹ ـ دنمارک


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ